بسم الله الرحمن الرحيم

## په لیبیا کې د ښکېلو ډلو تر منځ د خبرو اترو بیا پیلول
## (ژباړه)

**پوښتنه:**

د ۲۳/۱۱/۲۰۲۰مه د دوشنبې په ورځ د دویم ځل لپاره د لیبیایي ګوندونو تر منځ، د ویډیویي کنفرانس له لارې خبرې اترې ترسره شو. د دوی تمرکز د نوي دولت په جوړولو او ولسمشرۍ پر مجلس و. لومړی بحث یې د ۱۵/۱۱/۲۰۲۰مه، د یکشنبې په ورځ ترسره شوی و او اعلان یې کړی و، چې دوی په مهمو خبرو باندې توافق ته سره رسیدلي، خو بیا هم ځینې مسایل ناحل پاتې دي. دغه بحث په داسې حال کې روان و، چې په موراکو کې هم د لیبیایي ډلو تر منځ خبرې اترې روانې وې. د دغو خبرو اترو د جنجالونو تر شا څوک دي؟ ایا دغه خبرې اترې به په لیبیا کې روانو کړکېچونو ته د حل لاره پیدا کړي؟ او په اړه به یې د نړیوالو موقف څنګه وي؟

**ځواب:**

د سم ځواب تر لاسه کولو لپاره باید لومړی لاندې موضوعاتو ته اشاره وکړو:

۱ـ ترکیې تر هغو پورې د السراج ځواکونو ملاتړ کاوه، چې بالاخره د الحفتر ځواکونو ته یې ماتې ورکړه او له مرکز (ترېپولي) څخه یې وایستل، تر سایرت او جوفرا پورې یې تعقیب هم کړل او وروسته یې ورڅخه وغوښتل، چې له نورو ګوندونو سره خبرو اترو ته کېني. دغه راز دایمي اوربند ومني، ځکه ترکیې دوی ته د یاغیانو په سترګه کتل! دا ځکه چې د ۱۷/٦/۲۰۲۰ د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر مرکز ترېپولي ته ولاړ او د دولت له مشر فایض السراج سره یې وکتل او اعلان یې وکړ: «موږ په داسې مسایلو خبرې وکړې، چې یو دایمي اوربند ته مو ورسوي او په لیبیا کې یو دایمي سیاسي حل ته وروسېږو.» سرچینه: (Anadolu 18/6/2020) د ترکیې مداخله د السراج او د نوموړي د حکومت په ګټه نه وه، بلکې دوی غوښتل چې په نوموړي فشار راوړي، څو نور ګوندونه هم قبول کړي، ځکه ترکیه د امریکا په امر کار کوي. امریکا اعلان وکړ، چې په لیبیا کې د ترکیې د کړنو ملاتړ کوي، دا په دې مانا چې د ترکیې دغه ګام د امریکا په خوښه و. د ۸/٦/۲۰۲۰مه د امریکا او ترکیې د ولسمشرانو تر منځ تلیفوني اړیکه نیول شوې وه او د لیبیا پر موضوعاتو یې بحث کړی و. اردغان داسې وښوده، چې دا د امریکا او ترکیې نوښت دی، چې د لیبیا بحران ته حلاره پیدا کړي او له دغه اړیکې وروسته اردغان له ترکي رسمي تلویزیون سره په مرکه کې وویل: «له ټرمپ سره توافق ته رسیدلی یم.» د دواړو هېوادونو تنظیم کولو ته یې اشاره

وکړه او پرته له دې چې نور جزیات یې په ډاګه کړي ویې ویل چې دا په لیبیا کې د دوی (دواړو هېوادونو) ګډ نوښت دی. په همدې ډول د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر هم د ۲۰/٦/۲۰۲۰ له ترکي تلویزیون سره په مرکه کې یادې خبرې تایید کړې او ویې ویل: «ترکي او امریکایي چارواکي به په ممکنه لارو چارو خبرې وکړي، لکه څنګه چې د دوشنبې په ورځ د ۸/٦/۲۰۲۰مه د دوو ولسمشرانو (ټرمپ او اردغان) تر منځ د تلیفوني اړیکې په وخت کې موافقه شوې وه. همدارنګه نوموړي دېته هم اشاره وکړه، چې د ترکیې او امریکا ابتکار کېدای شي له لیبیا څخه بیرون، په نورو سیمو کې هم عملي کړای شي». لنډه دا چې ترکیه په لیبیا کې یوازې د امریکا سیاستونه او پلانونه عملي کوي.

۲ـ کله چې السراج د ترکیې له ملاتړ پرته د سایرټ او جوفرا سیمو د کنټرول توانایي نه درلوده او د الحفتر تر ماتې پورې یې پر دوی د حملې کولو هڅې کولې، که چېرته دا ملاتړ نه وای درېدلای، نوموړي کولی شوای، چې دوی کنټرول کړي او په دې حالت کې نوموړی تر فشار لاندې هم و، څو له نورو ګوندونو سره خبرو اترو او اوربند منلو ته اړ کړي. څکه نو نوموړي د ۱٦/۹/۲۰۲۰مه اعلان وکړ، چې زه به د راتلونکي اکتوبر په پای کې استعفا ورکوم، څو اردوغان خجالت شي. د ۱٦/۹/۲۰۲۰مه لیبیایي تلویزیون د نوموړي خبرې خپرې کړې، نوموړي وویل:«زه هر چاته وایم چې زما اصلي هیله دا ده، چې خپله دنده د اکتوبر تر پای پورې بل چاته وسپارم او هیله لرم چې د خبرو اترو کمېټه تر هغو پورې خپل کار پای ته ورسوي او نوی ولسمشر وټاکي. نوموړي په خپل ځان فشار راتلل هم تایید کړل او زیاته یې کړه چې د هېواد دوه طرفه کېدل به، په هېواد کې د یوې سوله ییزې فضا راتلل له خنډونو سره مخ کړي. همدارنګه ګوندونه یې په دغه کار تورن کړل او هېڅ کومې ډلې ته یې د جګړې د افشن وړاندیز ونه کړ.» ده دا ومنله چې دولت به یې هېڅکله هم په عادي یا نیمه طبیعي حالت کې عملیات نه کوي، څکه دوی ته بهرنۍ او کورنۍ دسیسې او لاسوهنې ښې په ډاګه شوې وې. له دې سره سره په دې هم پوهېده، چې کله السراج د دولت چارې په لاس کې واخلې، نو دا به د بریتانیا کار وي؛ هغه څه چې په تونس کې یې هم وکړ. دغه راز اوس به له دې وروسته دلته هم د ۲۰۱۵م، له توافق څخه وروسته په سمدستي ډول رانوځي او همدارنګه ده خپله استفا له اروپا څخه نه، بلکې یوازې د بریتانیا د لاسوهنو پایله وبلله.

**۳ـ** کله چې اردوغان خبر شو چې السراج د استعفا ورکولو نیت لري، نو ویې ویل: «ما تېره اونۍ په استانبول کې له السراج سره ولیدل، څکه نو د دغه پرمختګ او یا د خبر په اورېدو سره ډېر زیات خفه شوم.» نوموړي زیاته کړه؛ چې د ترکیې استازو او دولتي روغه کوونکو تر منځ به هم د دغه غونډې په شان د روانې اونۍ په پای کې غونډه ونیول شي. که الله تعالی غوښتي و، نو موږ به دغې مسالې ته ښه جهت ورکړو. (Agency Anadolu and Reuters 18/9/2020) په پای کې السراج له خپلې استعفا څخه تېر شو، د ۳۰/۱۰/۲۰۲۰مه الجزیرې شبکې خپره کړه: د لبیا د ولسمشرۍ ماڼۍ مشر فیض السراج، نن د جمعې په ورځ وویل؛ چې زه له خپل هغه

اعلان څخه تېر يم، چې غوښتل مې د اکتوبر ترپایه پورې خپلې ولسمشرۍ ته د پای ټکی کېږدم. دغه خبره د السراج وياند هم پر خپله ټويټر پاڼه ليکلې وه. د ۳۰/۱۰/۲۰۲۰مه، الجزيرې هم دغه خبر تاييد او په رسمي ډول سره اعلان کړ. اروپا هم د السراج له استعفا سره موافقه نه وه او د اردوغان پرېکړې ته يې هم غاړه نه اېښوده، خو د نوموړي نظريه يې په همدغو الفاظو خپروله. همدارنگه مخکينيو سرچينو زياته کړه، چې د جرمني د بهرنيو چارو وزير له السراج څخه وغوښتل، څو په ليبيا کې د خبرو اترو په موده کې باید خپلې دندې ته دوام ورکړي. دغه خبرې السراج او ماس يو له بل سره له تليفوني اړيکې، چې په ليبيا کې پر وروستيو پرمختگونو غږېدل، پر مهال وکړې. همدارنگه دغه خبر د ليبيا دولت پر فېسبوکپاڼه هم خپور شوی و. د جرمني د بهرنيو چارو وزير د اړيکې پر مهال وويل: په خپل مقام د السراج پاتې کېدل يوه، مهمه مساله ده، چې په دغه ځانگړې مرحله کې د ليبيا د دولت رهبرۍ ته ثبات او ادامه ورکړي. سرچينه: (Al-Jazeera 30/10/2020) ...

۴ـ د روسيې د مداخلې د مخنيوي لپاره ترکيې له امريکا سره په همغږۍ دغه کارونه وکړل او روسيې هڅه کوله، چې ځان بېطرفه وښيي، د دواړو تر منځ د منځگړي په توگه عمل وکړي، که څه هم پوځي ځواکونه يې د الحفتر د ملاتړ لپاره هلته استولي، خو بيا يې هم ادعا کوله، چې پوځي ځواکونه يې نه دي استولي، خو دغه د روسيې امنيتي کمپنۍ ده، چې پوتين ورسره شريک دی. دغه راز نه غواړي د السراج له دولت سره خپلې اړيکې پرې کړي؛ بلکې غواړي چې د السراج په دولت باندې خپل نفوذ ولري او د ليبيا په خبرو اترو کې برخه هم واخلي. دا ځکه چې نوموړی په منځنې ختيځ او اروپا کې، د روسيې پخواني ولسمشر ميکايل گورباچوف ځانگړی مامور او لاسپوځی دی. ده به ويل چې موږ د ليبيا په اجنډا کې د تريپولي له چارواکو سره په همغږۍ، د ترکيې په گډون له نړيوالو طرفونو سره په پوره باور په خبرو اترو کې برخه اخلو. نوموړي په ليبيا کې د ترکيې او روسيې همکاري او يووالی وستايه، چې ښکاره بېلگه يې د ۱۳/۱/۲۰۲۰مه د روسيې د ولسمشر ويلادميرپوتين او ترکيې ولسمشر رجب طيب اردوغان مثبت نقش و، چې د جنگ د دواړو لورو تر منځ يې اوربند وکړ او هم يې د برلين د کنفرانس د دايرېدلو لپاره يو ښه فرصت برابر کړ. سرچينه (Al-Ahram 20/7/2020)

۵ـ ۱۰/٦/۲۰۲۰مه، د پمپيو له سکرتريت څخه په ليبيا کې د سمدستي اوربند غوښتنه وشوه او له ټولو بيرونيو طرفونو څخه يې وغوښتل، چې باید خبرو ته سره کيني. نوموړي وويل: «د دولت د ملي يووالي او د ليبيا د ملي پوځ تر منځ پرېکړه، چې د نړيوالې ټولنې په حضور کې ترسره شوه، يو ښه او مثبت گام و. د مشبتو او ژر تر ژره خبرو د پيلولو يوازينۍ لاره دا ده، چې باید اوربند عملي کړای شي او د نړيوالې ټولنې په مشرۍ په ليبيا کې سياسي خبرې اترې پيل شي.» سرچينه: (Sky News 10/6/2020)' کله چې دغو دواړو لورو اوربند قبول کړ، نو امريکا دغه توافق ته ډېره خوښي څرگنده کړه او دغه پرېکړه يې د ۲٦/۱۰/۲۰۲۰مه، د پمپيو له سکرتريت څخه اعلان کړه: «په ليبيا کې د دواړو جنگي ډلو تر منځ اوربند يو مثبت گام دی او ټول هغه بهرني جنگيالي چې

غواړي نوی حکومت جوړ کړي، باید د ملي ټاکنو لپاره ځانونه تیار کړي. د ۲۳/۱۰/۲۰۲۰مه، نړیوالې ټولنې هم له لیبیا څخه خپل ملاتړ اعلان کړ او ویې ویل: «په لیبیا کې د جنګ دوه لوري به په متحده ایالتونو کې له پنځو ورځو خبرو اترو وروسته په دایمي اوربند موافقه وکړي. سرچینه: (Reuters 23/10/2020) په دې ډول امریکا په سیاسي او دېپلوماتیک ډول د متحده ایالتونو په نوم سمدستي د لیبیا چارو ته ځان ورداخل کړ، تر څو هلته د اروپا په ځانګړي ډول د بریتانیا نفوذ راکم او تر خپل کنټرول لاندې یې راولي.

٦ـ دا هر څه چې په لیبیا کې وشول دا ټول سیاسي رقابتونه وو، چې پوځي جنجالونه یې راپورته کړل، دلته لوبه روانه وه، څو په لیبیا کې دغه دوې ډلې د توافق او خبرو مېز ته کېنوي. بریتانیا د دغه کار لپاره درې ځلې هڅې وکړې، لومړی ځل یې د ۶/۹/۲۰۲۰-۱۰ پورې د بوزنیکا په مراکش ښار کې د دواړو لورو د خبرو اترو پیلولو لپاره کنفرانس جوړ کړی و. دویم ځل یې د ۲/۱۰/۲۰۲۰-۶ پورې کنفرانس جوړ کړی و. په دریم ځل یې د ۵/۱۱/۲۰۲۰ مه د دواړو لورو لوړ پوړو استازو د معلومولو لپاره، د چارچوب پر محتوای امضا وکړه. داسې ښکارېده، چې د دغو جلسو تر شا برېتانیا د خپلو استازو په واسطه لاس درلود او غوښتل یې چې د ۱۷/۱۲/۲۰۱۵مه په مراکش کې د سکیرټ توافق، بیا له سره عملي کړي. دغه هوکړه یې په تریپولې کې د لیبیا دولت د عالي شورا په مشرانو لاسلیک کړی و او په ټوبروک کې یې د پارلمان په مشر لاسلیک کړی و.

۷ـ د امریکا متحده ایالتونو د سیاسي استازي سټېفاني ویلیم په لاس، د کاغذونو په واسطه ټوله بازي څېړله او موضوع یې د خپل سیاست او دېپلوماسۍ سره سمه روانه کړې وه. خو په ښکاره به یې ویل، چې د لیبیا په هکله باید خبرې پیل شي، لکه څنګه چې په بوزنیکا کې ترسره شوې. د ۹/۱۱/۲۰۲۰مه په تانزانیا کې د لیبیا د دوو جنګي ډلو تر منځ په مستقیم ډول خبرې اترې پیل شوې او د متحده ایالتونو له خوا ۷۵ لیبیایي سیاسیون، چې پخپله د امریکا له خوا ټاکل شوي وو او د امریکا له خوا اداره کېدل، د خبرو اترو ټیم د عالي شورا غړو، کارپوهانو او د دریو سیمو (تریپولي، بارقا او فیزان) سیمو له استازو جوړ شوي وو.

د ۱۵/۱۱/۲۰۲۰مې په بېګاه ویلیم وویل: «د لیبیا د دوو ډلو تر منځ مخامخ خبرې اترې، د ښو پایلو په درلودلو سره پای ته ورسېدې او د دویم ځل لپاره به په دغه اونۍ کې بیا انلاین خبرې اترې ترسره شي. له مثبتو پایلو څخه یې موخه د ټاکنو د نیټې ټاکل، د اجرایي ریاست د استعفا موده او د ولسمشرۍ او حکومتي شوراګانو لپاره د کار پیلولو د شرایطو اماده کول وو. د لیبیا په هکله د خبرو اترو ټیم له اوو ورځو خبرو وروسته د دریو فایلونو په ترتیبولو سره موافقې ته ورسېدل. لومړی دا چې د ۲۴/۱۲/۲۰۲۱مه، به ټاکنې ترسره کېږي، چې دغه ورځ د لیبیایانو لپاره ډېراهمیت هم لري. ځکه چې دوی په ۱۹۵۱م، په همدغه ورځ ازادي هم اخیستې وه. د اجرایه ریاست لپاره یې د استعفا موده هم معلومه کړه او همدارنګه د ولسمشرۍ د چارو د مخته بېولو لپاره یې هم شرایط په پام کې ونیول شول. دا به یو ساده مسوولیت وي، بل دا چې په ملي روغه جوړه باندې به هم کار

کېږي او دا درې استازي به له دريو سيمو (جنوبي، ختيځو او ليديځو) برخو څخه وي، درېيم فايل ته په کتو سره به دا غړي يوازې د دولت کولو لپاره لياقت په پام کې نيسي، ځو وکولی شي د ليبيا د خلکو لپاره سهولتونه لکه اوبه، برق او نورې اړتياوې برابرې کړي. دغه راز د ولسمشرۍ مجلس او  دولت بايد يو له بل سره په کار کولو کې ښې ښې چوکاټونه ولري. د دغه مقام لپاره به نفر د لنډې مودې لپاره د تکنوکراتو له خوانه د ګوندونو له خوا ټاکل کېږي. دلته ډېر کار ته اړتيا ده ځکه د لسو کلونو جګړې په يوه اونۍ کې نه شې حل کېدای. برخه اخيستونکي له دې سره موافق دي، چې د ويډيو له لارې خبرې وکړي او د يوې قانوني کمېټې جوړولو لپاره يو ميکانيزم برابر کړي او د ټاکنو لپاره د اساسي قانون مطابق ځينې اساسات برابر کړي، چې دا بيا يوه بېله مساله ده. سرچينه: (Anadolu Agency 16/11/2020) د سخيرات توافق دوی بيخي هېر کړی، دا ډېر يو تېز کار و چې کله ويليم وويل: لس کاله جګړې به په يوه اونۍ کې ختمې نه شي. نوموړې ټول اسناد دويم ځل وکتل، څو وکولای شي دغه تړون په غير رسمي ډول لغوه کړي او د بريتانيا نفوذ راکم او که امکان ولري بيخي يې له منځه يوسي. يعنې که پوره يې له منځه وړل امکان ونه لري نو لږترلږه تر خپل کنټرول لاندې خو يې راولي.

۸ـ د متحده ايالتونو له خوا مامور سټېفاني ويليم ژمنه وکړه، چې د خبرو اترو ځنډوونکو ته به قانوني سزا ورکول کېږي او ويې وويل: «هغوی چې هڅه کوي د خبرو اترو کوونکو غړو ته پيسې ورکړي، په ډاګه به شي او مخه به يې ونيول شي او د پيسو او رشوت ورکول او رايو اخيستلو په اړه به يې څېړنې پيل شي» دغه راز دېته يې هم اشاره وکړه، چې داسې يو کود هم شته، چې د مداخلې لپاره د سياسي پيسو اخيستل او ورکول په ډاګه کړي. نوموړې وويل: «داسې طرحه نشته چې په خبرو اترو کې د برخه اخيستونکو هويت پکې پټ وساتل شي، خو د دې لپاره ٦١ او ٧۵ فيصدي د ملي اجماع لپاره ډېره اړينه ښکاري.» سرچينه: ( Ash-Sharq Al-Awsat 17/11/2020) نوموړې د امريکا له پاليسۍ سره سم د متحده ايالتونو د مامور په نوم مخته روانه وه. امريکا پخپله د متحده ايالتونو د استازو په وسيله، د دغې پربکړې ملاتړ کاوه، لکه څنګه چې د متحده ايالاتونو استازو به د ليبيا د ثبات لپاره رايه ورکوله او خپل ملاتړ به يې ورڅخه ښوده. قانون وايي: په ليبيا کې خبرې اترې ځکه مهمې دي چې د امريکا له خوا رهبري کېږي. کوم شخص يا اتحاديه باندې په غير قانوني ډول د تېلو استخراج کول او يا هم له مالي انستيتيوتونو سره په پټه اړيکه ټينګول غير قانوني کار دی او دا به د بشري حقونو په قانون کې ځواب ويونکي هم وي. سرچينه: (Sky News 19/11/2020) ...

۹ـ بالاخره د ليبيايي ډلو تر منځ د ليبيا د ۵+۵ پوځي کمېټې په شمول، مذاکرات پای ته ورسېدل او د برلين د کنفرانس په شکل به د امريکا تر څار او د متحده ايالاتونو د استازو تر کنټرول لاندې به اوربند وشي. د ۴/۱۱/۲۰۲۰مه، نوموړې اعلان وکړ، چې دغه اجماع بايد د تړون دورې ته راورسېږي او ويې ويل:« ۱۲مهمې خبرې دي، چې اوربند ساتلی شي او مهمه دا ده چې يوه پوځي کمېټه بايد وټاکل شي، څو ټولې خارجي

قواوې ببرته خپلو هېوادونو راوګرځوي او د دغو دوو ګوندونو ځواکونه له سايرت او جوفرا سيمو څخه راوباسي. ۲۳/۱۰/۲۰۲۰مه، په جينوا کې هم داسې پرېکړه شوې وه، چې درى مياشتې وخت يې بهرنيو ځواکونو ته ورکړى و، چې بايد د ليبيا له خاورې څخه ووځي. سرچينه: (Reuters 23/10/2020) اردوغان وويل: زه نه پوهېږم چې د واګنر په شان سربازان به په دريو مياشتو کې له ليبيا څخه ووځي او کنه. نوموړي وويل: «دا هغه وخت په ليبيا کې له روسيې سره تنظيم کړل شوي وو او امريکا په روسيه باندې فشار نه راوړي، چې دغه او ځينې نور دېته ورته ځواکونه وباسي، خو هر وخت چې امريکا خپلو اهدافو ته ورسېږي، نو لکه په سوريه کې به بيا دغه کار وکړي.

۱۰ـ خلاصه هغه څه چې موږ په جزياتو ورته اشاره وکړه، په لاندې ډول دي:

a- د السراج دولت غواړي د ترکيې ملاتړ ورسره وي، ځکه چې د اروپا په ځانګړي ډول د برېتانيا له پروژو څخه برخه‌من شي او الحفتر ته ماتې ورکړي او هغه سيمې لکه جوفرا او سارېټ په خپل کنټرول کې راولي، خو ترکيه د السراج څخه د امريکايي اهدافو د لاسته راوړلو لپاره ملاتړ کوي.کله چې د السراج ځواکونه ډېر ژر سارېټ او جوفرا سيمو ته ورسېدل، خو ترکيې له السراج څخه خپل ملاتړ بند کړ او له نوموړي څخه يې وغوښتل، چې اوربند وکړي او له نورو ګوندونو سره خبرو اترو ته کېني، السراج حيران پاتې شو او فکر يې وکړ، چې اردوغان دی د استعفا په اعلانولو سره وشرماوه، خو ترکيې پر نوموړي فشار راوړ، څو داسې کار ونه کړي او کله چې اروپا هم په السراج باندې د ترکيې له خوا د فشار په زياتېدو پوه شوه، چې نوموړی د اردوغان فشار ته غاړه نه ږدي، نو دا په دې مانا چې السراج له خپلې استعفا څخه ببرته ګرځېدلی دی. دا هغه څه دي، چې اروپا او برېتانيا غوښتل، چې دغه کار د بريتانيا او اروپا په ګټه و. چې السراج له دوی سره وي ځکه دوی خپله د السراج د استعفا تر شا ولاړ و.

b- دغه بحثونه د ډېرو مهمو قدرتونو له خوا برابر شوي و، کوم هېوادونه چې د دوی کوربه وو، د دوی ستونزې يې ورته حل کولې يا يې نورې هم خرابولې او په ګوندونو باندې يې فشار راوسته، څو د دوی خبره ومني او خپل نفوذ ورباندې زيات کړي. په اصل کې دوی نه غوښتل چې د دوی ستونزې په سم ډول ورته حل کړي، چې د سخيرات تړون يې يو ښکاره مثال دی. بريتانيا غواړي چې همدغه تړون پرته له ځنډ څخه د السراج په حکومت باندې قبول کړي. بريتانيا د بوزنيکا په ناسته کې هم هڅه کوله، چې په دغه تړون باندې ځينې نورې مادې ورزياتې کړي، خو ويليم د امريکا دېپلوماتي ماموري د متحده ايالتونو تر نوم لاندې د دغو دوو ګوندونو تر منځ جلسه کې د جينوا پرېکړه، د (اوربند منل) غوښتل ورباندې ومنې، څو بيا دا هم قبول کړي، چې يو کال وروسته به ټاکنې کوي. امريکا په تمامه معنا هڅه کوله، چې د امريکا ماموريت بريالی شي او د بريتانيا لاس له ليبيا څخه ورلنډ اوليبيا تر خپل کنټرول لاندې راولي.

c- مهمو رقابت کوونکو (امریکا او بریتانیا) تل هڅه کوله، چې یو د بل مخه ونیسي او د یو بل پروژې ودروي او خپلې پروژې کامیابې کړي. ځکه نو دا یو ناشونی کار دی چې د دغه هېواد لپاره د سمه حلاره پیدا کړل شي او د لیبیا د خلکو لپاره د واقعي امنیت او سوله راشي، ځکه کله چې ټاکنې وشي، نو تر پایه به په خپل حالت پاتې نه شي، تر هغو به جنجالونه روان وي، چې امریکا یا اروپا خپل نفوذ په لیبیا کې محکم نه کړي او لیبیا به د دغه اور مواد وي. د لیبیا د خلکو لپاره دېته اړتیا وه، چې دغه ټولې دسیسې رد کړي او د بل هېواد د غلامانو خبرو پیروي ونه کړي او یو بل ته یې د ورورۍ لاسونه ورکړي وای او له دغه جنجالونو څخه یې ځانته یوه حلاره پیدا کړې وای. همدارنګه د امت له سیاسي او باخبره بچیانو سره یو ځای شوی وای، څو یې لیبیا هم د اسلامي دولت یوه برخه جوړه کړې وای، چې په دغه نظام کې ټول اسلامي هېوادونه راځي. دغه نظام بیا راشده خلافت دی او د خلیفه په وسیله به رهبري کېږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دغه خلافت زیری راکړی دی.

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *خلافت به بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تګلاره باندې تاسیسېږي.*

**۱۴۴۲هـق، د ربیع الاخر ۱۰مه**

**۲۰۲۰م، د نومبر ۲۵مه**